#کرونا_را_جدی_بگیریم
#کرونا_به_جدي_ګڼو
افغانستان ویروس کرونا را شکست میدهد!

# د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو!**

کرونا ناروغي جدي وګڼئ، د روغتیایي مرکزونو په لارښوونو عمل او د افغاني سرې میاشتې ټولنې د رضاکارانو او ګرځنده روغتیایي ټیمونو سره، چې شپه او روځ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د هیواد والو په خدمت کې دي، همکار پاته شئ؛ ترڅو د کرونا ناروغۍ له خپراوۍ څخه مخنیوی وشي.

جمعیت هلال احمر افغانی – د افغاني سرې میاشتې ټولنه



د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښځپلیو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو، درنو حاجیانو او مېاتلو همکارو ملي ټولنو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.

ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.




په پینځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کورنۍ تر ساتنې او روزنې لاندې لري او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکارۍ او ځریتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.

## پیښو ته دځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۱ کال د جنوري میاشتې برخمن شوي.

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مرسته شوي توکي | مرستندویه بنسټونه |
|---|---|---|---|
| کابل | ۷۹۰۳ | خوراکي توکي | د کویت سره میاشت |
| ننګرهار | ۱۲۶۰۰ | خوراکي توکي | د کویت سره میاشت |
| ټولټال برخمن شوي: | | ۲۰۵۰۳ تنه | |

## د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۱ کال په جنوري میاشت کې په هیواد کې د ښکیلو اړخونو ۱۵۸ جسدونه خپلو کورنیو ته لیږدول شوي او سپارل شوي دي.

## مرستونونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په پینځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننګرها) کې ۸۲۵ تنه مشمولین (کونډې، یتمان او رواني ناروغان) تر پالنې او روزنې لاندې لري، چې ۳۲۲ تنه یې رواني ناروغان دي.






## د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې میاشتې ټولنې روغتیایي خدمتونه ددې لپاره د اهمیت وړ دي چې په کلیو او بانډو کې د لیرې پرتو سیمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په لیرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حیاتي ارزښت لري

| روغتیایي مرکزونه | OPD روغتیایي خدمتونه | اسکرینتگ/چاپ | شکمن | روغتونونو ته لیږل شوي شکمن | روغتیایي زده کړې |
|---|---|---|---|---|---|
| بنسټیز کلینیکونه | ۷۰۶۱۵ | ۱۵۴۶۶ | ۶۵۱ | ۲۰۹ | ۵۲۴۷۳ |
| ګرځنده روغتیایي ټیمونه | ۳۶۵۵۱ | ۱۰۶۰۲ | ۶۲۰ | ۱۴۸ | ۲۶۵۷۳ |
| فرعي روغتیایي مرکزونه | ۲۴۷۰۹ | ۲۴۰۷ | ۱۰۴ | ۳۵ | ۵۴۷۲ |
| جامع روغتیایي کلینیک | ۶۲۱۹ | ۱۰۶۰ | ۷۰۱ | ۰ | ۱۷۷۲ |
| د کتلوي معافیت ګرځنده ټیمونه | ۲۸۷۹۳ | ۲۴۳۸۱ | ۵۵۱۲ | ۲۵۷ | ۱۶۱۶۶ |
| د کوید ۱۹ مرکزي روغتون | ۲۴۸۲ | ۲۴۸۲ | ۲۴۴۵ | ۰ | ۴۹۶۴ |
| **ټولټال:** | **۱۷۴۷۶۹** | **۵۶۳۹۸** | **۹۴۳۹** | **۶۴۹** | **۱۰۷۴۲۰** |








